صمدافغان ۲۸/۰۷/۲۰۱۲

# آیا ولس مشر ربښتیا هم د اداري فساد ختمول غواړي؟

افغان ولسمشر حامدکرزي د توکیو کانفرانس څخه وروسته په هېواد کې د روان اداري فساد د مخنیوي لپاره هڅې ګړندې کړي، او غواړي هغه ژمنه چې د توکیو په کانفرانس کې یې له نړیوالې ټولنې سره کړې وه پرځای کړي، خو د شننونکو په آند چې د ولسمشر رواني هڅې به کومه مثبته پایله ونه لري، د دوی په آند چې تر اوسه هغه ادارو ته چې پکې اداري فساد اوج ته رسېدلی توجه نده شوي، پدې ادارو کې د ټیټ پوړو چارواکو څخه نیولې بیا تر لومړي شخص پورې ټول په فساد کې ککړ دي.

که ولسمشر ربښتیا هم په ادارو کې فساد ورکول غواړي، او غواړي پاتې دوه کالونه چې د ولسمشر د دورې اخیري کالونه بلل شوی، خپل اعتبار بیا راژوندی کړي، موږ (عامه خلکه) به د ولسمشر د پرېکړو تر شاه کلک درېږو او تر هغې به خپلو همکاریو ته دوام ورکوو چې تر څو مو په وس پوره وي، د نورو ادارو تر څنګ د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونه، د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره، ملي شورا او یو شمېر نورې اداري شتون لري، چې باید تر ټولو لومړی هغوئ ته توجهه وشي، ځکه دا وزارتونه او اداري د هېواد سرنوشت ټاکوونکي اداري او وزارتونه دي، لیکنه راڅخه اوږده نشي راځم اصلي ټکو ته.د ملي شورا د دواړو جرګو زیات شمېر غړي خپله په اداري فساد ککړ دي، دا خبره هغه وخت پوره ثابته شوه،چې تېره ورځ د همدې جرګې یو غړي په دري ژبه د اداري هئیت څخه نیولې بیا تر ټولو وکیلانو پورې په اداري فساد ککړ وبلل، او ویې ویل: (مرګ بهتر است برای دولتمردان خاین افغانستان)، ده وویل د همدې جرګې غړي خپله په اداري فساد ککړ خلک دي، دوی به څنګه وکولای شي، په نورو ادارو کې فساد له منځه یوسي، دا خبره هغه وخت راڅرګنده شو، چې رسنیو خبر ورکړ ولسي جرګه د هېواد کورنیو او دفاع چارو وزیران او د ملي امنیت عمومي رئیس استحضاروي، اوروسته د نامعلومو ټلیفونو څخه د جرګې هغه غړو ته زنګونه وهل شوي او تهدید شوي چې غوښتل یې یاد شوي چارواکي استحضا کړي دوی ته ویل شوي چې دوی باید له دې څخه لاس واخلي، اصلي خبر هم همدا ده، که چیرې په ملي شورا کې کار ونشي او د دوی مخه و نه نیول شي، لیرې نده، چې ټولې اداري به په فساد ککړ شي، همدا غړي په قراردادونو، غصب، ناوړه کړونو او یو شمېر غیر اخلاقي کارونو کې لاس لري.په کورنیو چارو وزارت کې د ټیټ پوړي چارواکي څخه نیولې بیا تر لومړي مقام پورې ټول په اداري فساد، ژبني، قومي، نژادي او حزبي تعصبونو لړل شوي، په لوژستیکي او نورو قراردادونو کې مستقیماً لومړی مقام لاس لري، یاد شویو تعصبونو یې شاوخوا ټوله سیمه او هېواد نیولی، هېڅکله یې هم د یو شجاع او زړور سرتیرې د شهادت له کبله د دوی کورنۍ ته د تسلیت پیغام وانستوه، نه یې هم د دوی کورنۍ پوښتنه کړې، او نه یې تر اوسه کومه مرسته او همکاري کړې.د کورنیو چارو وزارت سره یوځای د دفاع وزارت کارونه هم په همدېشان روان دي، دلته هم مشر د کشر په قصه کې ندی، پرون یې زړور زمري سرتیرې د هېواد په کوډ کې وژل شوی، دوی پرې حتی (خدای دې وبخښي) هم و نه ویل، او نه یې دا وویل، چې د دوی کورنۍ بل څوک د نفقې پیدا کولو لري او کنه؟ نه یې د کورنیو چارو له وزیر پشان د کوم سرتیرې په فاتحه کې ګډون کړی او نه یې هم د هغوئ د کورنۍ د پوښتنې لپاره څوک استولي، که په ورځ کې لسګونه سرتیرې د هېواد د ساتنې په نوم ووژل شي، دوی یې پوښتنه نده کړې، د تل په شان په خپلو ګټو پسې ګرځي، د کورنیو چارو وزیر خپله په قراردادونو کې لاسوهنې کوي، بیا پدې وزارت کې د دفاع وزیر ځوی دی، هېڅ قرارداد د دفاع وزیر له ځوی څخه نه تېرېږي، بې لدې چې دی ته پکې سهم ورنکړي، دوی په پلازمېنې مرکز کې په مزو سر وي او زموږ د کورنۍ غړي په سرحدونو کې ددوی امنیت ساتي، لاسته راوړنه د هغوئ وي ویاړ پرې دوی کوي، خو کله چې سرونه د هغوئ ځي بیا دوی چپه خوله ناست وي حتی یوه فاتحه یې هم نه کوي، جنرال یفتلي د شهید محمداودخان د روغتون سره د مرسته شویو پیسو په میلیونونو ډالر خپل جیب ته کړل یوازې له دندې ګوښه شو نور ورته هېڅ هم و نه ویل شول، رپوټونه وایي چې د یاد روغتون مرسته شویو پیسو څخه شاوخوا ۱۰ میلیونه ډالر دفاع وزارت لومړي مقام ترلاسه کړي.

له بل پلوه دوه اونۍ مخکې یو راپور داسې وویل چې د دفاع وزیر ځوی ۱۲ میلیونه ډالر د مختلفو قراردادونو څخه ترلاسه کړي د کار ترسره کېدا مخکې بل هېواد ته وړي او پیښې یې سپکې کړي دي.د هر څه سربېره عدلي او قضایي ارګانونه ډېر له فساده ډک دي، دوی د هغه چا پروا کوي او فکر یې ساتي څوک چې دوی فکر ساتي او د هغه چا دوسیه له ستونزوسره مخ کوي، څوک چې د جیب خرڅ نه ورکوي، داسې قاتلین او تروریستان هم شته چې په موټرو کې یې انتحاري واسکټونه د یوځای څخه بل ځای ته انتقال کړي، قتلونه یې کړي ثبوتونه هم پرې موجود



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

وي مګر د څو پیسو په مقابل کې خلاصیږي، خو هغه څوک چې یا د بل چا په ټس کې او یا هم په ډېر کوچني جرم نیول شوی وسې، د نه پیسو له وجهې په کلونو کلونو بې سرنوشته په زندانونو کې پروت وي.

د پورته ذکر شویو ادارو د لټیا او کمزورتیا له وجهې لیدل کېږي، چې د هېواد په مختلفو برخو کې افغان سرتیرې مخالفینو ته تسلېمېږي، د دوی د تسلیمۍ اصلي لامل دا ندی، چې دوی له مخالفینو سره مینه لري، مګر اصلي لامل یې دا دی، چې د پورته ذکر شویو ادارو لخوا یې پوښتنه نه کېږي، د پورته ذکر شویو ادارو لخوا یې ضمیر وژل شوی او ذلیل شوی دي، نن په یو پوسته کې چې په لیرې پروت ولایت کې موقعیت لري یو سرتیرې یې ووژل شي، هغه سرتیرې په ورځوورځو هغه ساحه کې پروت وي، څوک یې خواته هم نه ورځې ویره لري، چې د لارې په اوږدو کې د چا لخوا تر برید لاندې رانشي، هغه شهید ته په کټو د نورو مرام هم کمېږي او حتی دې ته رسېږي، چې مخالیفینو ته تسلیمېدل تر هر څه بهتره وګڼي.ولایاتو ته د والیانو، ښاروالانو او ولسوالانو د ټاکل کېدو اداره (سیمه ییز ارګانونه) هغه اداره چې د پوپل صاحب د تګ وروسته یې ښه ورځ و نه لیده، هر پوست ته بیل بیل قیمت ټاکل شوی، ولایت ټاکل شوې پیسې، ښاروالي خپلې پیسې او ولسوالي خپل فیس لري، د راپورټونو له مخې سمیه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې لخوا شاوخوا ۱۱۶تنو ته ولایاتو، ۱۵۰ تنو ته د ښاروالیو او ۳۵۰ تنو ته د ولسوالیو د ورکړې ژمنې شوې دی، پوښتنه دلته راولاړېږي، چې آیاکه څوک په پیسوڅوکۍ ترلاسه کړي، وروسته به دا شخص د خدای رضا لپاره کوم کار خلاص کړي، زه وایم نه هېڅکله نه! هر وخت چې پر یو څه پیسې ولګي مجبوراً باید بیرته هغه پیسې ترلاسه شي، نو پدې حالاتو کې اداري فساد ختمېدل ډېر له ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ کېدای شي.له ولسمشر څخه په کلکه غوښتنه کوو چې د پورته ذکر شویو ادارو پر اداري هئیت له سره کتنه وکړي، ترڅو ولسمشر هم په خپل تګلارې کې بریالی وسې او وعده یې هم پورته شوې وسي.



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ